پوهندوی آصف بهاند

# د تړلو ښوونځیو ستونزه او یوڅو نظریات



په افغانستان کې ترشپږم ټولګي پورته د نجونو د ښونځیو د تړل کېدو نه نږدې دوه‌نیم‌کاله تېر شول. افغانان او ورسره نړیوال تراوسه نه دي توانېدلي چې دې ستونزې ته حل‌لاره پیدا کړي. په خپله طالبان هم په دې مورد کې د نظراختلاف لري.

واکداران د هیڅچا نه مني، نه د هغو افغانانو چې د تعلیم پلویان دي، نه د متخصصینو خبره مني او نه هم د نړیوالو د خبرو خیال ساتي. یو ځل په میډیا کې داسې خبر هم خپور شو چې قومي مشرانو او دیني عالمانو له طالبانو غوښتي دي چې د نجونو ښوونځي پرانیزي او هغوی ته د تعلیم حق ورکړي. د بي‌بي‌سي په یوه رپوټ کې په دې باب داسې راغلي وو:

«افغان قومي مشرانو او دیني عالمانو په سپېدار ماڼۍ کې له طالب چارواکو غوښتي چې د نجونو زدکړو ته اجازه ورکړي.

ارګ ویلي چې په دې غونډه کې د افغانستان له ۳۴ ولایتونو قومي مشرانو، دیني علماوو او حکومتي چارواکو ګډون کړی و.

د ارګ په وینا پانه کې راغلي چې دغو علماوو او قومي مشرانو د حکومت او خلکو تر منځ د واټن د کمېدو تر څنګ په حکومت کې د متخصصو کادرونو د ګمارل کېدو غوښتنه هم کړې.

غونډې ته د وینا پر مهال د سوېلي زون استازي قومي مشر محمد هاشم د دغو قومي مشرانو او دیني عالمانو د غوښتنو د لوستلو پر مهال د طالبانو له مشرتابه وغوښتل چې د نجونو زدکړو ته اجازه ورکړي:

"د کمېټي نظر دی چې د تعلیم په باره کې دی: امارت دې اسلامي او عصري تعلیم ته لکه څرنګه چې توجه شوې ده په دې کې دې د نجونو او خویندو د تعلیم پر مخ باندې مکتبونه او پوهنتونونه خلاص شي"...»

اوس خبره دې ته ورسېده چې دننه په یوه دولتي مانۍ کې ګڼو طالب پلوه خلکو، له طالبانو غوښتي دي چې د نجونو د تعلیم مخه باید ونه‌نیول شي، پوهنتونو کې دې د زدکړو حق ورکړل شي، خو تر اوسه هم پرېکړه‌کوونکي مقامات خپل نظر په ښکاره ډول نه څرګندوي او لکه تل وایي چې په افغنستان کې د نجونو تعلیم د ستونزو یوه برخه ده، خو حل‌لاره نه ورته ښيي.

زه نه پوهېږم چې دوی پر دې خبره پوهېږي که نه چې دوی خو د نجونو ښوونځي درولي، خو د نجونو عمر نه درېږي، د نجونو عمر روان دی، عبث تېرېږي او ورسره هغوی ته او د هغوی د کورنیو ځینو غړو ته یې له دې درکه ځومره رواني کړاوونه ورپه برخه کوي.

نړوالو په بېلابېلو ډولونو طالبانو ته د نجونو د ښوونځیو د بیا پیل په پار وویل او خبره یې ان د ملګرو ملتونو د امنیت تر شورا پورې هم ورسوله. دا لاندې د ځو هغو رپوټونو سرلیکونه لو لینکونه دي چې نړیوالو له طالبانو نه د نجونو د ښوونځیوو د بیا پیل غوښتنه کړې ده:

بي‌بي‌سي پښتو:

«د اسلامي همکارۍ سازمان: طالبانو سره د نجونو پر زدکړه او د ښځو پر کار وغږېدو»

بي‌بي‌سي فارسي:

«سازمان ملل برنامه درس بی‌بی‌سی را «راه نجاتی برای آموزش دختران» در افغانستان خواند»

بي‌بي‌سي پښتو:

«طالبانو ته د ملګرو ملتونو سرمنشي پیغام؛ نجونو ته اجازه ورکړئ چې ښوونځیو ته ولاړې شي»

تاند:

«د م.م. سرمنشي له طالبانو وغوښتل ۲ کاله تېر شول نور د نجونو ښوونځي پرانیزئ»

تاند:

«سپینه مانۍ: د طالبانو رسمیت پېژندل د نجونو د تعلیم په برخه کې د دوی د ژمنې له عملي کېدو سره تړلی»

خو دې ټولو غوښتنو او غږونو پر طالبانو باندې اثر ونه‌کړ، کله وایي چې د نجونو د ښوونځیو د بیا پیل له‌پاره شرایط نه دي چمتو، کله وایي چې پرنویو قوانینو باندې کار روان دی او کله چې بیخي استدلال ورنه ورک شي، بیا وایي چې ځوک دې زموږ په کورنیو چارو کې ګوتې نه وهي.

اوس په افغانستان کې د نجونو د ښوونځیو د تړلو موضوع نه د یوې لویې غمیزې په څېر، داسې ستونزه جوړه شوې ده چې هم افغانان او هم نړیوال ورته حیران دي؛ خو د تعلیم پلویان غلي نه کېني او هرکله خپل نظریات څرګندوي.

د نجونو د ښونځیو د تړلو پر ستونزه باندې د نظریاتو او انتقادونو په لړ کې یوې افغاني خپل نظر داسي څرګند کړی دی:

«که د هرې خور، لور ترځنګ د هغې خپل پلار او ورور ودرېږي، هېڅوک به بل ته د ګوتنیونې اړتیا ونه لري او نه به هم د بل ښځه د ملاتړ او په حق کې یې د غږ پورته کولو غوښتنه وکړي.

متاسفانه چې زموږ په افغاني ټولنه او بخصوص ځینو خویندو د فیمېنزم مفهوم غلط تعبیر کړی چې له مخې یې خپل د کور نارینه اتلان او نعوذبالله پیغبران ګڼي، خو د بل د کور یا نور نارینه ګان به د هر ظلم و تاوتریخوالي او... سبب بولي.

"ملاله یوسفزۍ" چې نن د ژوند په هر لوړ ستیج کې او هر څه ده، علت یې تر شا د خپلې کورنۍ ملاتړ او پلار دی. ګڼې لر خو څه کړې حتی زموږ د بر افغانانو هم پرې پت پرېښود، سپکې سپورې، کنځلې ورته کوي، په هر بد نوم یې یادوې، هر تور پرې پورې کوي. نه ملاله او نه یې هم کورنۍ، کیسه کې یې لا نه دي. د خپلې موخې په لور الوت کوي.

بیا هم په تاسف سره وایم، چې ستونزه زموږ په خپله غیرتمنده ټولنه او د خپلې ټولنې په اکثریت کورنیو کې ده، په خوله د روښانفکری سندرې وایي، زړونو کې ګوړې ماتوي او د جهالت دا متل زمزمه کوي چې:

"ښځه یا په کور ده یا په ګور" »

دغو څو بیتونو ته پام وکړئ چې شاعر په ډېر جرأت سره د هغه چا په مخ کې او د هغه چا د واکدارۍ په دایره کې د تعلیم، ښوونځي او پوهنځي صفت کوي، چا چې د نجونو او پوهنتون د ښځینه محصلینو پر مخ د ټولګیو دروازې تړلې دي، مطیع‌الله تراب:

«بې اهلو کارو به د بام سرته پوړۍ ونه‌شي
فکر کوم له دې وړیو به شړۍ ونه‌شي

د غټو زدکړو وزارت او مولوي صاحبَ
د ترافیکو مدیریت او مولوی صاحبَ

ګورئ پنځه‌ویشت کاله مخکې مو ګناه ګڼلو
پرتذکره باندې تصویر مو ناروا ګڼلو

اوس برخمن یئ له کمرې او تلویزیون صاحبه
دا برکت و د ښوونځي او پوهنتون صاحبه»

خلک غلي نه پاتې‌کېږي او د حق غوښتنې غږ جګوي. بیا هم عبدالوحید وحید په یو جدي او قوي استدلال سره، په ډېره زړورتیا د نجونو د ښوونځیو د تړلو پر ستونزه انتقاد کوي او په زغرده وایي چې پرته له کوم دینې او بل دلیل ښځه د افغانستان نیمایي نفوس له زدکړو محروم کړای شوی دی:

«په یویشتمه پیړۍ کې له زده کړو ښځه د نیم ولس محروومول د ملت معنوي ټول وژنه ده. انجونو په زده کړو باندې له هیڅ قسم نقلي او عقلي استدلال پرته لګول شوي ناوړه بندیز ته کله کلتوري پولې بانه ګرزول کیږي، کله په ولس باندې د بدویت ټاپې په لګولو توجیه کېږي، کله بندیز موقت او عارضي ګڼل د ولس د غولولو لپاره پلمه کیږي، کله یې ګډې زده کړې لامل ګڼل کېږي، کله د فحشا د مخنیوي په نوم توجیه او د خپل ولس سپکاوی کیږي، کله د حالاتو پلمې، کله د نصاب د نیمګړتیاو تورونه او کله هم نور عجیب او غریب توجیهات وړاندې کیږي خو دَ دغو تورونو لګولو پرمهال د واکمنانو او د هغوی ناوړه کړنو ته د توجیهاتو لټوونکو ړندو مقلدینو په تندې باندې کله هم خولې راماتې نشوی.»

د نجونو د ښوونځیو د نه پیل کېدو په اعتراض کې دوکتور لطیف یاد خپل غږ داسې جګ کړی دی:




طالب چاواکي د اسلامي همکاريو سازمان له پلاوي سره په خبرو کې وايي چې: «د نجونو زدکړې زموږ د ټولنې اړتيا ده.»

خو په عمل کې هيڅ شی نه شته. د ښوونځيو د تړلو د ستونزې له امله نه يوازې نجونې او د هغوی کورنۍ زوربېږي، بلکې د نجونو د خواږه عمر هغه برخه چې د زدکړو لپاره ده، عبث ضايع کېږي.

د اسلامي همکاريو سازمان پلاوي راغلی دی چې دوی ته ووايي: چې د نجونو زدکړې له اسلام سره تضاد نه لري، خو د حاکمو چارواکو له خوا داسې ځوابونه ورکول کېږي چې نه يوازې د نجونو د ښوونځيو د پرانستنې لپاره مرسته نه کوي، بلکې د نجونو د زدکړو د تعطيل موده نوره هم غځول کېږي.

د نجونو د تعليم د بندولو د عواقبو په باب بايد وويل شي چې د څو کلونو په اوږدو کې به زموږ خلک او ټولنه د بې‌سوادی له يوې ځواکمې څونامي او بلا سره مخ شي چې ورانونکې څپې به يې ډېره تباهي رامنځ ته کړي چې جبران به يې يا ناشونی وي او يا به ډېر ستونزمن وي.

## شکايتونه او غوړونه

### د نجونو د تړلو ښوونځيو ستونزه

**«زما د خور له لاسه دې اخيستې کتابچه ده**
**طالبه وروره ولې؟**

**پر مخ دې بنده کړې د پوهنې دروازه ده**
**طالبه وروره ولې؟»**

(حاجي‌ګل ثمرزی)

په افغانستان کې ترشپږم ټولګي پورته د نجونو پر تعليم باندې د بنديز موده تراوسه هم غزېدلې ده او د تعليم او نوي نسل د روزلو پلويانو، د دې بنديز له پيل نه بيا تر نن پورې د دې ستونزې د حل لپاره خپل وړانديزونه او شکايتونه له بېلابېلو لارو تر طالب چارواکو او نړيوالو اړوندو مؤسسو پورې رسولي دي. د نجونو د تعليم د ممنوعيت په باره کې د خلکو شکايتونه دومره ډېر او اوږده شول چې لکه د چا خبر د شکايتونو په ډېر ويلو او تکرار سره د خلکو پر ژبو باندې ويښته شنه

شول؛ خو مسؤل چارواکي داسي چلن کوي لکه چي هېڅ يي اورېدلي نه وي او يا هېڅ غوږونه يا د اورېدلو حس نه لري.

دلته به د يادو شکايتونو دوې بېلگي وړاندې کړم، يو شکايت د شعر په ژبه دی او بل شکايت په ديپلوماتيکه ژبه:

يووخت د نجونو د ښوونځيو د تړل کېدو شکايت داسي شوی و:

«زما د خور له لاسه دې اخيستي کتابچه ده
طالبه وروره ولې؟
پر مخ دې بنده کړې د پوهني دروازه ده
طالبه وروره ولې؟

*****

اميرالمؤمنينه نور زموږ واوره فرياد
زموږ ژوند دې کړو برباد
له علمه دې محروم کړو موږ به ژوند کې نه شو ښاد
زموږ ژوند دې کړو برباد
نا پوهه به شو لوی زموږ د ژوند څه معامله ده
طالبه وروره ولې؟

*****

نړۍ پر مخ روانه ده موږ وروسته پاتي کېږو
له هيچا نه شرميږو
د يو بل په لمسون باندې به څو پورې غوليږو
له هيچا نه شرميږو
نړۍ پر مونږه خاندي يويشتمه زمانه ده
طالبه وروره ولې؟

*****

لږ ښکته پاکستان وگوره بل خواته ايران
بيا وگوره جهان
اسلام چي ترينه خپور شو، وگوره عربستان
بيا وگوره جهان
اسلام زموږ په حق کي خپله کړې فيصله ده
طالبه وروره ولې؟

*****

ارمان يي په اوبو باندې لاهو شو اوس کړيږي
په سرو سترگو ژړيږي
چي مره نه شي له غمه مور او پلار مې پرې ډاريږي
په سرو سترگو ژړيږي
خوراک نه کړي له غمه ناسته تل خفه ـ خفه ده
طالبه وروره ولې؟

*****

سزا دې راته غټه ده ټاکلې وس مې نشته
که ستا په زړه کې ښه شته
تعلیم چې نه وي هلته نه ډوډۍ او نه اوبه شته
که ستا په زړه کې ښه شته
نو ځکه درته کړې ټمرزي دا یو ګیله ده
طالبه وروره ولې؟»

دا لاندې شکایت او وړاندیز بیا په دیپلوماتیکه ژبه دی چې سیاسي شننونکي عبدالوحید وحید د نیوکو په چوکاټ کې د ښې راتلونکې په خاطر داسې وایي:

«... البته له شک او تردد پرته ویلای شو چې هر څه هم سم نه دي. نیمګړتیاوې شته محرومیت شته جنسیتي او قشري تبعیض شته، حق تلفي شته نا انصافي شته، هېواد په منزوي حالت کې قرار لري بندیزونو او د اړیکو د جوړولو په برخه کې نیمګړتیاو ولس ترستوني پورې رسولی دی. له مخکنیو متکررو ژمنو، دیني مکلفیت او ملي مسئولیت سره سره له تیرو دوو کلونو راهیسې په ټولیز ډول له عصري علومو سره تبعیضي چلن دوام لري. د انجونو ښوونځي بند پراته دي او پوهنتونونو ته د انجونو تلل لاهم د امر ثاني په پلمه معما ده. په پریکړو کې د ولس د ګډون اصل ته توجه نشته او حکومت ملي بڼه نه لري. دغه نیمګړتیاوې د اوسني نظام په تندي هغه داغونه دي چې پاکول به یې ستونځمن کار وي او اوس یې د توجیه لپاره د چارواکو لخوا وړاندې شوي بانې هم بې بنسټه ثابتې شوې دي. د نظام په مختلفو برخو کې د اصلاحاتو د رامنځته کولو په ژمنو کې د ریښتینولي هیڅ ډول نښې نښانې نه لیدل کېږي او مشران داسې ځرګندونې کوي لکه چې هر څه ګل او ګلزار وي او ستونځې ورته د توطئو او دسیسو په ډول کورني او بهرني مخالفین رامنځته کوي.

د امارت له مشرانو څخه په ځینو مواردو کې د مثبتو نوښتونو کولو له امله له مننې سربیره غوښتنې هم لرو. د حفظ ماتقدم او په راتلونکې کې له درونړ مسئولیت څخه د خلاصون لپاره په زغرده ورته وایو چې د زده کړو او حکومتولي په برخه کې تګلارې مو هېواد ویجاړوي او ولس ته فاجعې راوړي. دغه اوسنۍ تګلارې مو هغه کوړ بار دی چې تر منزله پورې د رسیدو وړتیا نه لري. مخکې له هغې چې د مجبوریت له مخې د ممکنه کورنیو توپانونو او ننګونو له امله، یا هم د پردیو د ناوړه فرمایشاتو منلو ته اړ ایستل شئ، یو ځل بیا هېواد کنډواله شي، د خپلو منل شویو دیني او کلتوري شاخصونو په چوکاټ کې د ننه د خپل ولس چیغې هیلې او زارۍ واورئ، د هغوی غوښتنې ومنئ او په خپلو تګلارو کې د مثبت بدلون لپاره د همت ملا وتړئ.»

دا او دې ته ورته په سلګونو وړاندیزونه او شکایتونه موجود دي چې د نویو واکدارانو د راتګ له ورځې تر نن پورې په سوله‌ایز او قهري ډول د بېلابېلو اشخاصو او وسایلو له لارې د طالبانو مسؤلو اشخاصو ته لېږل شوي دي، خو داسې ښکاري چې دوی یا غوږ نه لري یا بابیزه ورته ښکاري، ځکه پاملرنه نه ورته کوي.

په سوله‌ایز ډول د زاریو په دود باید طالب چارواکو ته عرض وشي چې: دغه مخلوق چې تاسو زدکړو ته نه پرېږدئ، د دوی راتلونکی او د دوی د کورنیو ژوند له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي، بې تعلیمه چې هره ورځ، هره میاشت او هرکال تېرېږي، د افغانستان یو نسل وروسته پاتې کېږي، له رواني پلوه ځپل شوي دي او د هرې ورځې په تېرېدو سره نور هم ځپل کېږي.

که نوی نسل بې زدکړو لویېږي، دا د هغوی راتلونکی ژوند په منفي ډول اغیزمنولای شي، د علم او پوهې ارزښت راټیټېږي، معلمین، پوهان او د پوهې بهیر ته صدمه رسیږي، د ټولنیز ژوند ټول اړخونه به له کړاو نه ډک وي او...

دي او دي ته ورته نورو ستونزو او عيني واقعيتونو ته په کتو سره، هيله ده چې د نجونو د تعلم بنديز لرې کړئ، دا به هم ستاسو حاکميت او حکومت ته ښه وي او هم به د افغانستان د نويو نسلونو پرمخ د نوي ژوند او علم دروازې پرانستل شي.

www.dawatmedia24.com